# یوولسم لېکچر تنقید {کره کتنه}

دریم سمسټر

پښتو ډیپارټمنټ

یونیورسټي آف بلوچستان کوئټه

# د نقاد ذمه واري او خصوصيات

يو نقاد بايد ښکه وي .بايد ښکه سوچ ولري او بايد د کومو کومو خصوصيتونو مالک وي

١. علم لرل
٢.د علم د اظهار فن لرل
٣. ذهني بلوغت او تربيت
۴. د فنپارې په صحيح معنا کښي مطالعه کول
۵. په ايمانداري او غير جانبداري سره فيصله کول

۶. د فنپارې د مطالعې سره سره د فنکار د شخصيت تجزيه
او د هغه علمي او ادبي پس منظر نه ځان خبر ساتل

۷. د فنکار د نورو ليکونو نه هم خبربېدل د هغه د مجموعي
رجحان د هغه نظريه او د هغه د اسلوب نه ځان پوهول

۸. هره خبره په دليل او ثبوت سره کول

۹.په علمي اوادبي حلقو کښې اعتبار پيدا کول

۱۰. د فنپارې د ښه او کمزورو دواړو اړخونو جائزه اخستل
او په خلاصو سترګو او په خلاص ذهن د فنپارې اصلي معيار
په ګوته کول

١١. د ذاتي خوښي او ناخوښي نه ځان ليري ساتل .
دا هغه ذمه واري دی چي د یو حقيقي نقاد په سيرت کښي
به وجود لري
کله چي نقاد د خپلو ذمه واريو څخه ناخبره وي هغه نقاد
کله هم خپله ذمه واري نه سي پوره کولاۍ
ذمه واري د نقاد اصل خوبي ښکاره کوي

د نقاد خصوصيات

يو نقاد له په کار دی چي چي هغه خپله رائ په ايمانداري
سره ښکاره کړي او په دې مقصد يې وړاندي کړي چي هغه
د کوم ليک يا ليکوال په حقله رائي وړاندي کوي هغه يوه بې
طرفه او د انصاف سره تړلې تجزيه وي
نقاد چي څه ليکي هغه بايد په دليل او ثبوت سره وليکي او د خپل
علم او ذهانت ثرک په کي ښکاره وي .

دغه رنګه يو نقاد ته په کار دی د يو فنپارې ښه او بد اړخونه په داسي رنګه په ګوته کړي چي په هغه کښي ذاتي تعصبات يا کم علمي نه سي ښکاره .
دغه رنګه نور هم ډير خصوصيتونه سته چي د نقاد د پاره ضروري او حتمي وي

نور بحث به په انټرايکټيو سيشن کي وربانديي کوو